
# شری

## دا یوازې لږې ګرېمکي نه دي

شری خطرناک کیدی شي، په ځانګړې توګه کوچنیانو او ماشومانو لپاره.



### د شري په علایمو کې لاندې ذکر شوي شامل دي:

- **لوړه تبه** (ممکن تر 104°F ډېر لوړه شي)
- **ټوخی**
- **بهېدونکې پوزه**
- **سرې او یا اوبلنې سترګې**
- **بخار** (د علایمو تر پیلېدو 3-5 ورځې وروسته ځرګندیږي)

### شری جدي دی.

شری د شدیدو روغتیایي اختلاطاتو سبب کیږي لکه سینه بغل، د مغز پړسوب (انسفالایټس) او مرګ.

- **له 5 کسانو څخه 1** په شری اخته کسبه په روغتون کې بستر کیږي.
- **له هرو 20 کسانو څخه 1** پر شري اخته ماشومسینه بغل، په تنکیو ماشومانو کې د مرګ تر ټولو عام لامل پیدا کوي.
- **له هرو 1000 کسانو څخه 1** پر شري اخته کسد مغز پړسوب پیدا کوي چې ښایي د مغز خرابېدو سبب شي.
- **له هرو 1000 کسانو څخه له 1 تر 3** پر شري اخته کسمړه کیږي.

### شری ډېر ساري دی

او کله چې پر دغې ناروغۍ یو اخته کس ټوخیږي یا پرنجی کوي، نو د هوا له لارې خپرېږي. پر شري یو اخته کس په شاوخوا کې یاده ناروغي له 10 څخه 9 غیر واکسین شوو کسانو ته خپروي.

### واکسین د شري د مخنیوي تر ټولو غوره لار ده.

ماشوم باید د شري، ډېبغوري او روبیلا (measles, mumps, and rubella, MMR) واکسین په 12-15 میاشتو او 4-6 کلنۍ کې ولګوي. دوه ډوزه د شري پر وړاندې 97% اغېزمن دي.

د The Chicago Department of Public Health (CDPH) د Chicago د واکسینو کلینکونه د ټولو اوسېدونکو لپاره خدمتونه چمتو کوي. ښایي له تاسو وغوښتل شي چې د اوسېدنې ثبوت وړکړئ.

**CHICAGO.GOV/VACCINES**

که چیرې د واکسینو د بل چمتو کوونکي په پېژندلو کې مرستې ته اړتیا لرئ، ن په مهربانۍ سره لیدنه وکړئ:

**VFC.ILLINOIS.GOV/SEARCH/**



CDPH
Chicago Department of Public Health

**CHICAGO.GOV/MEASLES**